مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

سردار محمد همدرد

۲۰۱۸/۰۶/۱۵

# د سولې اختر

خدای تعالی ج مسلمانانو ته په کال کې دوه ورځې د خوشالیو په نوم یادې کړې دي، چې یو کوچنی او بل لوی اختر دی.

اختر یوازې یوه کلمه نه ده؛ بلکې اختر په خپله غېږ کې ډېرې هیلې او ارمانونه لري. مړاوو زړونو ته خوښي وربښي. ځوانان او ماشومان د ځوانی او ماشومتوب شوخي او خوشالي کوي. مشران او سپین ږیري یو او بل ته د مینې او محبت غېږې ورکوي.

د کال په جریان کې چې څوک خپه شوي وي، زاړه خپګانونه هېروي او یو بل ته مبارکی او پېرزویني وړاندې کوي. مشران مو په عزت په مېلمستونو کې ناست وي، ځوانان یې هم پوښتنې ته ورځي او هم یې لاسونه ښکلوي. یعني د ټولو په خوله باندې خنداوې وي. هر څوک چې په کور کې د خوراک لپاره څه ولري، په دغه ورځ یې په ډېر اخلاص د مېلمنو مخ ته ږدي.

په ښار کې هم ډېر توپیر لیدل کیږي. مېلې وي او د خوښی فضا خپره وي. اکثره خلک نوې جامې اغوندي او د عطرونو خوشبویي د ښار په کوڅو کې هم محسوسیږي.

خو له بده مرغه باید چې و وایم. کله چې په افغانستان کې کورنی جګړه پیل سوې ده، بیا نو افغانانو اخترونه په خوشالی نه؛ بلکې په ویر لمانځلي دي، چې دا لړی لا هم روانه ده. ځکه چې ډېری خلک سهار د اختر له لمانځه څخه مخکې لومړی هدیرو ته ځي. ډېر ماشومان چې د خپل ګاونډي ماشوم ښایسته جامې او څپلی وویني، نو بیا یې د خپل پلار نشتون سترګو ته ودریږي.

په دې اختر کې چې کله د ولسمشر محمد اشرف غني له خوا د نهه ورځو لپاره اوربند وسو، جوخت وسلوالو طالبانو هم درې ورځې د اختر په مناسبت اوربند اعلان کړ. تاسو باور وکړئ، زیاتره خلکو دومره د خوښی احساس وکړ، چې حتی همدغه اوربند یې د ځان لپاره اختر وګاڼه.

په دې کې هېڅ شک نشته، چې تر هغې په دې وطن کې امن نه وي راغلی، اخترونه به راځي، مګر رنګیني به نه لري. نور به هم زخمي زړونه په غم او ویر کې د اختر ورځې او شپې لمانځي. یعني افغانان تر اختر مخکې سوله غواړي او سوله د ټول ملت ارمان دی، ځکه چې جګړه څلوېښت کلنه سوه او د نړی په تاریخ کې یې د اوږدې جګړې ریکارډ جوړ کړ.

زه د وطن په سیاسونو او مشرانو ږغ کوم، چې نور خود خواهي، واک غوښتنه او هرڅه پرېږدئ. یو ځل خو ملت ته داسې اختر ورپه برخه کړئ، چې خلک هم مسجد ته په ازاد ډول ولاړ سي او هم مو ځوانان په لوی زړه جشنونه او مېلې جوړې کړي.

د خدای تعالی ج دربار ته لاس پورته کوم، چې پروردګاره! نور زمونږ ګناهونه معاف او مونږ ته تلپاتې سوله را په برخه کړې او له دغو بدبختیو مو وژغورې.

په درنښت!



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ